مړو ته ښکنځل مه کوئ، ځکه چې هغوی هغه څه ته ورغلي دي چې مخکې يې له ځان څخه ليږلي دي

له عائشې رضي الله عنها څخه روايت دی وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: "مړو ته ښکنځل مه کوئ، ځکه چې هغوی هغه څه ته ورغلي دي چې مخکې يې له ځان څخه ليږلي دي".
[صحيح دی] [بخاري روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم مړو ته د سپکاوي او د هغوی ابرو پسې د خبرو کولو حراموالی بيانوي او وايي چې دا له ناوړه اخلاقو څخه دي، ځکه چې هغوی هغه څه ته رسيدلي دي چې له نېکو او بدو عملونو څخه يې وړاندې کړي دي، نو لکه څرنګه چې دا ښکنځلې هغوی ته نه رسيږي، بلکه يوازې ژوندي ازاروي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5364